# ستا سود کلام
# نه قربان شم

26-September-2024



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 26 ستمبر کال 2024ء (بمطابق 21 ربيعُ الاوّل، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# ستاسو د کلام نه قربان شم

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... مِنبَر د خوشحالۍ نه پهٔ خوزيدو شو
- ...د کوهي اوبه خوږې شوې
- ... د خوب خبره رښتيا شوه
- ... بوډا والے دې ځنګ تير کړے شي؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***: +92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د درودِ پاک پهٔ فضيلت باندې د ليکلے شوي کتاب **اربعينِ عطّار حصه 2** پهٔ صفحه: 1 باندې دي:

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چې کله پهٔ تاسو کښې څوک جومات ته داخليږي نو پهٔ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې سلام ليږي او داسې دې عرض کوي: اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ (يعنې اے الله پاکه! زما د پاره د رحمت دروازے برسيره کړې) او چې کله د جومات نه ووځي نو پهٔ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې سلام ليږي او داسې دې عرض کوي: اَللّٰهُمَّ بَاعِدْنِيْ مِنَ الشَّيْطَانِ (يعنې اے الله پاکه! ما د شيطان نه لرې وساتې) [1]

| | |
|---|---|
| بیٹھتے اٹھتے، جاگتے سوتے | ہو الٰہی مرا شِعار درود [2] |

**وضاحت:** يا الله پاکه! داسې توفيق راعطا کړې چې پهٔ ناسته، پهٔ ولاړه، پهٔ اودو، پهٔ ويخه

---

[1] ... سنن كبرىٰ للنسائى، كتاب عمل اليوم و الليله، باب ما يقول اذا دخل المسجد، جلد:9، صفحه:40، حديث:9838۔

[2] ...ذوقِ نعت، صفحه:124۔

بس هر وخت د درودِ پاک لوستلو عادت مي جوړ شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے- [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښینم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش به کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دې کلماتو ژور والے خو د سمندر پۀ شان دے

یو صحابئ رسول تیر شوے دے: حضرت ضِمَاد بن ثَعلَبَه اَزدِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - هغوئ د اِسلام پۀ شروع کښې ایمان راوړے وو بلکې هغوئ هغه خوش قِسمته دي چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا د نبوت اِعلان هم نه وو کړے، د هغې نه مخکښې هم د هغوئ دوست وو- [2]

---

[1]…بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ـ

[2]…استیعاب، جلد:4، صفحه:457ـ

حضرت ضِمَاد رضی اللہ عنہ طبیب (یعني ډاکټر) وو او د هغه وخت د طور طریقو مطابق به یـې دَم وغیره هم کولو- هغوئي په یمن کښې اوسیدلو، هلته به یـې د خلقو عِلاج کولو- د هغوئي د اِسلام راوړلو واقعه ډیره خوندوره ده- راځئ چې یي واورو:

په **مُسلِم شریف** کښې د حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ نه روایت دے، فرمائي: جنابِ ضِمَاد (ځوک چې هغه وخت لا مسلمان نه وو) او په مَنتَر وغیره کولو به یـې پیریان پاخول، یو ځل هغوئي مکې مُکرمې ته راغلل- دلته غیر مسلمو مشهوره کړې وه چې حضرت مُحَمَّد صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم (مَعَاذَ الله!) مَجنُون شوے دے- جنابِ ضِمَاد چې دا واوریدل نو اوئې وئیل: زهٔ هغوئي ګورم، کیدے شي چې زما په مَنتَر د هغوئي شِفا نصیب شي- نو جنابِ ضِمَاد په بارګاهِ رسالت صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم کښې حاضر شو-

سُبْحٰنَ الله! د دې پاکې بارګاه څومره ښکلے شان دے--!! مولانا حَسَن رضا خان رحمۃ اللہ علیہ لیکي:

| | |
|---|---|
| اُن کے جلووں میں ہیں وہ دلچسپیاں | جو وہاں پہنچا، وہیں کا ہو گیا[(1)] |

خیر! جنابِ ضِمَاد د رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم په خدمت کښې عرض وکړو: ما ته د پیریانو پاخولو منتر معلوم دے، الله پاک زما په لاس کښې شفا هم کیښودې ده، آیا تاسو دَم کړم--؟

اَللّٰهُ اَکْبَر! څوک چې د جهانونو بلکې ټخپله د پیرانو هم نبي دے، د هغوئي به د پیریانو نه څهٔ خطره وي--!! په اَصل کښې د دَم ضرورت خو جنابِ ضِمَاد ته وو- نو نبي کریم صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم هغوئي دَم کړل- څنګه یـې دَم کړو؟ واورئ! د روایت الفاظ دي: رسولِ

---

[1]...ذوقِ نعت، صفحه:34۔

ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم چې د جنابِ ضِمَاد خبره واوريدله نو اوئې فرمائيل:

اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِينُهٗ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيكَ لَهٗ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُولُهٗ

ترجمه: بے شکه ټول تعريفونه الله پاک لره دي، مونږ د هغۀ حمد کوو، د هغۀ نه مدد غواړو، چا ته چې الله پاک هدايت اوکړي، هغۀ څوک هم نشي ګمراه کولے او څوک چې د هغۀ د دربار نه رټلے شوے وي، هغۀ ته څوک هم هدايت نشي کولے او زۀ ګواهي ورکووم چې د الله پاک نه علاوه هيڅ څوک د عبادت لائق نشته، هغۀ يواځې دے، د هغۀ هيڅ شريک نشته او بے شکه مُحَمَّد د الله پاک بنده او رسول دے۔

د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم دي يو څو مبارکو جملو پۀ جنابِ ضِمَاد باندې اثر وکړو، اوئې وئيل: اے مُحَمَّد صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم! دا (ښکلي ښکلي) کلمات بيا ووايئ! نبي کريم صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم پۀ خپله مبارکه خُله باندې دا کلمات بيا ارشاد کړل، جنابِ ضِمَاد وه وئيل: يو ځل يې بيا ووايئ! نبي کريم صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم پۀ دريم ځل هم دا کلمات ارشاد کړل۔ بيا خو د جنابِ ضِمَاد سينه روښانه شوې وه، اوئې وئيل: ❀ ما د کوډ ګرو کلام هم اوريدلے دے ❀ د جادوګرو خبرې مې هم اوريدلې دي ❀ د شاعرانو شعرونه مې هم اوريدلي دي خو تر ننه پورې مې داسې کلام نه دے اوريدلے، **د دې مبارکو کلماتو ژور والے خو د سمندر پۀ شان دے۔** دا يې چې وه وئيل نو جنابِ ضِمَاد لاس راوړاندې کړو او اوئې وئيل: هَاتِ يَدَكَ اُبَايِعْكَ عَلَى الْاِسْلَام **اے محبوبه** صلَّی الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم ! **لاس**

راوړاندې کړېٔ! کلمه راته وه وايئ او ما خپل کړئ! [1]

| | |
|---|---|
| آپ کے دَر کی عجب توقیر ہے | جو یہاں کی خاک ہے، اِکْسیر ہے |
| کام جو اُن سے ہوا، پُورا ہوا | اُن کی جو تدبیر ہے، تقدیر ہے |
| جس سے باتیں کی، اِنہیں کا ہو گیا | واہ! کیا تقریرِ پُر تاثیر ہے [2] |

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ هٔغه لعاب (لاړو) مبارکو باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک کلام هم خومره ځانګړے شان دے--!! نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر نه واخله تر ښپو پورې ټوله معجزه ده ❀ لاسونه مبارک هم معجزه ❀ سترګې مبارکې هم معجزه ❀ پوزه مبارکه هم معجزه ❀ او قربان شم! د خُلې مبارکې دننه حصه هم معجزه ده ❀ د خُلې مبارکې پۀ دې دننه حصه کښې جوړيدونکې لعاب (لاړې مبارکې) که تريو (مالږين) کوهي ته پريوځي نو هغه هم خوږې کړي ❀ که پۀ وتلے شوې سترګه پورې شي نو سترګه به هم ټيک شي او د مخکښې نه به زياته روښانه هم شي ❀ که پۀ مات لاس باندې ولګي نو لاس ټيک شي ❀ که د چا خُلې ته لاړې شي نو د ټولو خرابو عادتونو نه نجات ميلاويږي ❀ او د خُلې د دې دننه مبارکې حصې نه د وتلو الفاظو دا اثر دے چې د غوږونو پۀ ذريعه زړۀ ته کوزيږي او د زړۀ ټول تور والے لرې کوي او زړۀ

---

[1]...مسلم، حديث:868۔

[2]...ذوقِ نعت، صفحه:224۔

روښانه او پړقيدونکے جوړوي۔

## مِنبَر د خوشحالۍ نه پهٔ خوزيدو شو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت ضِمَاد رضی اللہ عنہ ژوندے جاړ انسان وو ❀ پهٔ هغوئي کښې رُوح هم وو ❀ ساه يـې هم اخسته ❀ صرف زړهٔ يـې مړ وو، د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د کلام مبارک پهٔ اثر باندې د هغوئي زړهٔ ژوندے شو--!! خو ياد ساتئ چې دا مبارک کلام صرف مړه زړونه نهٔ راژوندي کوي بلکې پهٔ ساه نه لرونکو څيزونو کښې هم ساه اچوي۔ د حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہما نه روايت دے، فرمائي: يوه ورځ رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم پهٔ مِنبَر مبارک باندې تشريف فرما شو، هغوئي خطبه ورکړله او دا آيت مبارک يـې تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| وَمَاقَدَرُوااللّٰهَحَقَّقَدۡرِهٖٓ (پاره:24،سورۂ زُمر:67) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغوئي د الله قدر ونکړو څنګه چې د هغهٔ د قدر کولو حق وو۔ |

بيا نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د جوش پهٔ انداز کښې د الله پاک شان بيانول شروع کړل، د حضور نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا کلام مبارک يـې چې واوريدلو نو ھغه د لرګي نه جوړ مبارک مِنبَر هم د خوشحالۍ نه پهٔ خوزيدو شو، حضور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم خطبه ورکوله او مِنبَر د خوشحالۍ نه داسې خوزيدلو چې زمونږ سره فِکر شو چې هسې نهٔ نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ته څهٔ تکليف اونه رسي۔ (1)

| | |
|---|---|
| اُن کی باتوں کی لذّت پہ لاکھوں درود | اُن کے خطبے کی ہیبت پہ لاکھوں سلام (2) |

1...صحيح ابن حبان، حديث:5241۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:325۔

وضاحت: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د مباركو خبرو پۀ خوند باندې دې پۀ لكونو دُرُودونه وي او د هغوئي پۀ خطبه باندې دې پۀ لكونو سلامونه وي چې پۀ اوريدونكو باندې د هغې هيبت راخور شي۔

مدّاحِ حبيب مولانا جميل رضوي رَحمَةُاللهِ عَلَيه ليكي:

قرآن کلامِ باری ہے اور تیری زَباں سے جَارِی ہے
کیا تیری فصاحت پیاری ہے اور تیری بلاغت کیا کہنا...!!
باتوں سے ٹپکتی لذّت ہے، آنکھوں سے برستی رحمت ہے
خطبے سے چمکتی ہیبت ہے اے شاہِ رسالت کیا کہنا...!![1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خومره لوئے شان دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته د غور يوه خبره ده- كلام څۀ ته وئيلے شي؟ زمونږه پۀ سينه كښې، پۀ پرپوس كښې دننه هوا وي، مونږه چې كله د وئيلو اراده كوو نو د هغه ځائے نه هوا راپورته كيږي، مرۍ ته رارسي، بيا د خُلې د مختلفو حصو سره لګي، مونږ پۀ خپله ژبه باندې هغه هوا قابو كوو، مونږ چې ژبه كوم طرف ته اړوو، هغه هوا، هلته لګي او د لفظونو شكل اختياروي او د شونډو پۀ لاره بهر راوځي، يعنې زمونږ چې دا كوم الفاظ دي، دا د سينې نه د پورته كيدونكې هغه هوا نه جوړيږي، د لفظونو چې كوم فرق دے، دا د مَخَارِج پۀ ذريعه وي ❁ كه هغه هوا د حلق لاندې حصې سره ولګي

[1]...قبالهٔ بخشش، صفحه:124۔

او راوځي نو همزه جوړيږي ❁ که د حلق د مينځنی حصې سره ولګي او بهر راوځي نو عين جوړيږي ❁ د ژبې د بيخ او د تالُو د سختې حصې سره چې ولګي او راوځي نو کاف جوړيږي ❁ د دواړو شونډو لمدې حصې سره چې ولګي او راوځي نو باء جوړيږي ❁ غرض دا چې په اصل کښې د سينې نه پورته کيدونکې هوا ده، د کومې نه چې الفاظ جوړيږي، د هغې نه جملې جوړيږي، د هغې نه خبرې جوړيږي- اوس د سوچ خبره ده چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د سينې مبارکې نه پورته کيدونکې هُغه مقدسه هوا، چې کله د ژبې مبارکې په ذريعه کلام جوړيږي او بهر راوځي نو په هُغه هوا کښې دا اثر راشي چې مړي خو مړي دي، بالکل ساه نه لرونکې څيزونه، په کومو کښې چې چرې هُم ساه نه وه، په هغې کښې هم ساه راشي، هغه هم د دې مبارک کلام اوريدو سره د خوشحالی نه خوزيږي-

اوس سوچ وکړئ چې د سينې مبارکې نه د پورته کيدونکې هوا دا اثر دے نو بيا به ❁ د مبارکو لاسونو اثر څۀ وي ❁ د ښکلو ښکلو سترګو مبارکو شان به څۀ وي ❁ د غوږونو مبارکو شان به څۀ وي ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د ټول وجود اثر به څۀ وي---؟ مولانا حَسَن رضا خان صاحب رحمۃ اللہ علیہ څۀ ښکلې وئيلې دي:

| | |
|---|---|
| سَر سے پَا تک ہر ادا ہے لاجواب | خوبرُویَوں میں نہیں تیرا جواب |
| حُسْن ہے بے مثل، صُورت لاجواب | میں فدا تَم آپ ہوا اپنا جواب |
| تم سے اُس بیمار کو صحت ملے | جس کو دے دیں حضرتِ عیسیٰ جواب (1) |

**وضاحت:** يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ! د سر نه تر ښپو پورې ستاسو هره يوه ادا څۀ

[1]...ذوقِ نعت، صفحه:45۔

جواب نه لري بلکې پۀ حُسن والؤ کښې ستاسو هډو څۀ ثاني نشته، ستاسو حُسن هم بے مثاله دے او صورت مو هم بے مثاله دے- حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د الله پاک نبي دے، د هغوئي دا معجزه پۀ قرآنِ کریم کښې ارشاد شوه چې هغوئي به پیدائشي ړانده او د برګي مرض ښکار سره چې کله لاس ولګولو نو شِفَا به يــې نصیب کیدله، مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پۀ شان **شِفا ورکوونکے نبي** چې هم کوم بیمار له جواب ورکړي، تاسو هغه ذیشان يئ چې ستاسو د دَر نه داسې مریضانو ته هم شفا میلاؤیږي-

## د دې ژبې نه همیشه صرف حق ووځي

ابُوداؤد شریف د حدیثِ پاک مشهور او معتبر کتاب دے، پۀ دې کښې حدیثِ پاک دے، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: زما عادت وو چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه به مې چې څۀ هم اوریدل، هغۀ به مې لیکل- د قریشو بعضې خلقو ما ته وه وئیل: اے عبد الله! د انسان حالات بدلیږي رابدلیږي ❀ کله انسان غصه وي ❀ کله خوشحاله وي، څکه د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هره خبره مۀ لیکئ! فرمائي: دا مې چې واوریدل نو ما لیکل پریښودل- بیا ما دا ټوله معامله د رسولِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې عرض کړه- نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپله ګوته مبارکه د خپلې خُلې مبارکې طرف ته اشاره وکړه او اوئې فرمائیل: أُكْتُبْ یعنې اے عبد الله! زما هره خبره لیکه! فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ، مَا يَخْرُجُ مِنْهُ اِلَّا الْحَقُّ پۀ هغه ذات مې دې قَسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے--!! د دې (ژبې) نه د حق نه علاوه هیڅ نۀ ووځي-[1]

---

[1]...ابوداؤد، کتاب العلم ، حدیث:3647-

سُبْحٰنَ اللّٰه! زما د خوږ آقا مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک کلام څومره ځانګړے شان دے---!! يو زمونږ په شان بے کاره خلق وي ❀ چې په غصه کښې يې نو ګډې وډې وائي ❀ که خوشحاله وي نو پته نه لګي چې څۀ وائي ❀ که د چا تعريف شروع کړي نو د دروغو مبالغو نه کار اخلي ❀ که د چا بد بيانول شروع کړي نو د دروغو الزامونه پرې لګوي خو قربان شم! دا زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک کلام دے ❀ که د جلال په حالت کښې وي، نو بيا هم حق وائي ❀ که خوشحاله وي نو بيا هم حق فرمائي ❀ غرض دا چې په کوم حالت کښې هم وي د دې ژبې مبارکې نه چرې هم غلطه خبره خو غټه خبره ده، يو غلط حرف هم چرې نه دے ادا شوے-

## د چا هره خبره چې د خدائے وحي ده

اللّٰه پاک په قرآنِ کريم کښې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان بيانوي او فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰىؕ(۳) اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰىۙ(۴) (پاره:27، سورۂ نَجْم:3،4) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغۀ خبره په [خپل] خواهش نه کوی، هغه وحي وي چې هغۀ ته کيږي- |

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: د دې آيتونو دوه مطلبونه کيدے شي: **(1):** خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فَنَا فِي الله هغه اوچتې درجے ته رسيدلے وو چې د هغوئي د خُلې مبارکې نه کومه خبره هم ووځي نو خُله خو د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي خو کلام د رَبِّ رحمان وي، يعني کلام د رَبّ وَاحِد لاشَرِيک دے خو جاري کيږي د دې خُلې مبارکې نه **(2):** دويم مطلب دا دے چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه کومه خبره هم جاري شي، د هغې به دوه صورتونه وي: **وړومبے صورت**

دا چې هُغه کلام به د رَبّ مقدس قرآن وي **دويم صورت** دا چې هغې ته به حديث وئيلے شي او دا دواړه هُم د الله پاک د طرف نه وَحی ده- **قرآن ته وحي جَلِي وائي**، د دې په نـمونځ کښې تلاوت کولے شي- **حديثِ پاک ته وَحی خفی وئيلے شي**، د دې په نـمونځ کښې تلاوت نه کيږي- (1)

| | |
|---|---|
| وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى سے ہے روشن | زبانِ مقدّس پہ حق بولتا ہے |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د قرآن د دې آيتونو نه معلومه شوه چې خوږ محبوب صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم کله هم شونډې مبارکې پرانزي، ژبې مبارکې له حرکت ورکوي نو په دې کښې د نفس د خواهش لږه شان حصه هم نه وي شامله-

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیه فرمائي:

| | |
|---|---|
| وہ دہن جس کی ہر بات وَحیِ خُدا | چشمۂ علم و حکمت پہ لاکھوں سلام |

**وضاحت:** د هغوئي د مبارکې خُلې نه وتلې هره خبره د الله پاک وحي وي، ستاسو خُله مبارکه کومه چې د علم او حکمت چينه ده په هغې دې په لکونو سلامونه وي-

## د اَبُو عُمَير مرغۍ

د مشهور صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رضی الله عنه کشر ورور وو: حضرت اَبُو عُمَير رضی الله عنه- دا وړوکے ماشوم وو او يوه مرغۍ يې ساتلې وه، د هغې سره به يې لوبې کولې، يوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم د هغوئي کور ته تشريف يوړلو، څهٔ ګوري چې حضرت اَبُو عُمَير رضی الله عنه غمژن ناست دے-

1...شانِ حبيب الرحمٰن ، صفحه:-

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: په دۀ څۀ وشو؟ عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دۀ مرغی مړه شوې ده- خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د زړۀ خوشحالولو د پاره وفرمائيل: **يَا اَبَا عُمَيْرٍ! مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ** يعنې اے ابو عميره! په مرغی څۀ وشو---؟

اوس دا يوه خاص واقعه ده، مختصر شان خبره ده ❀ حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مِنبَر باندې خطبه نه ورکوله ❀ دَرس يې نه ورکولو ❀ غير مسلمو ته يې د نيکۍ دعوت نه ورکولو ❀ د يو آيت تشريح نه کيدله ❀ بلکې عام نارمَل حالت دے، زمونږه هم ماشومان بعضې وخت غمژن شي، خفه شي، مونږه د هغوئي د خوشحالولو کوشش کوو خو قربان شم! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف د يو غمژن ماشوم د خوشحالولو د پاره، د هغۀ زړۀ ته د سکون رسولو د پاره دوه جملې ارشاد کړې، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا فرمان مبارک هم په دِين کښې ډير لوئے مقام لري، **علمائے کرامو د دې حديثِ پاک نه د فقهې 400 مسئلې راويستې دي-** [(1)]

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کلام شان ---!! آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې په توقه کښې هم څۀ کلام وکړي نو د هغې نه صرف د څۀ کار ترغيب نه وي---!! ترغيب خو وړه خبره ده، ترغيب خو مونږ د عامو خلقو د جملو نه هم اخستے شو، الله والا چې کوم وي، هغوئي د ماشومانو د معمولي خبرو نه د عبرت مَدَني ګلونه راوباسي، يعني ترغيب بيل څيز وي او فائدې او مسئلې بيل څيز وي، قربان شم! د محبوبِ ذيشان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د توقو د کلام مبارک نه د

---

[1]...نيل الابتهاج، رقم:541، صفحه:411-

کوم چې 400 فائدې بیانولے کیږي، چې د ټوقو د کلام دا شان دے نو خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به په مِنبَر مبارک باندې کومې خطبې ارشاد فرمائیلې، د هغې شان به څۀ وي---!!

اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ لیکي:

میں نثار تیرے کلام پر، ملی یُوں تو کس کو زباں نہیں
وہ سخن ہے جس میں سخن نہ ہو، وہ بیاں ہے جس کا بیاں نہیں [1]

**وضاحت:** د هر کلام کوونکي په کلام باندې اِعتراض کیدے شي، خو اے زما خوږه آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زۀ ستاسو د کلام نه قربان شم، ستاسو کلام بے عیبه دے او تاسو داسې خبرې کوئ د کومو خوبیانې بیانول چې زمونږ په شان د خلقو کار نه دے۔

## په ټوقو کښې هم صرف حق وائي

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: زۀ چې کوم خبر هم تاسو ته درکووم، هغه یقیناً چې د الله پاک د طرف نه وي، په دې کښې هیڅ قِسمه شک او شبه نه وي۔ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو خو زمونږ سره خوش طبعي هم کوئ؟ (آیا دا د خوش طبعۍ والا کلام هم حق وي؟) اوئې فرمائیل: اِنِّي لَا اَقُوْلُ اِلَّا حَقًّا بے شکه زۀ د حق نه علاوه هیڅ نه وایم۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے

---

[1] ...شانِ حبیب الرحمٰن ، صفحہ:۔

صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ټوقو شان دے چې په ټوقو کښې هم څۀ فرمائي، هغه هُم حق فرمائي، چرې يــې هم په خُله مبارکه باندې ناحقه خبره هډو راځي نه-

| | |
|---|---|
| پسندِ حق تعَالیٰ تیری ہر بات | ترے انداز خوش، تیری ادا خوش [1] |

## د خواهش پرستۍ والا خبرې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته زمونږ د پاره هم يو سبق دے- زمونږه د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم څۀ شان دے؟

| | |
|---|---|
| وَمَا یَنۡطِقُ عَنِ الۡهَوٰی ؕ﴿۳﴾ (پارہ:27،سورۂ نَجۡم:3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغهٔ خبره په [خپل] خواهش نه کوی- |

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د نفس په خواهش باندې کلام نه فرمائي- اوس غور وکړئ! زمونږه حال څۀ دے؟ کيدے شي چې زمونږ په 100 کښې 99 خبرې د نفس د خواهش په وجه وي ❀ چې زړۀ مو خبرې کول وغواړي نو بس شروع شو ❀ چې زړۀ مو ګپ شپ وغواړي نو بس ګپونه شروع شي ❀ چې نفس مو غواړي نو مونږ د ځان تعريفونه شروع کړو ❀ خپلې پټې نيکۍ ښکاره کول، په دې باندې د ځان اوچت والے بيانول شروع کړو ❀ چې نفس وغواړي نو خلق غيبتونه هم شروع کړي ❀ چغلي هم شروع کړي ❀ دروغ هم وائي ❀ د ټوقو ټقالو محفلونه هم جوړيږي ❀ په يو بَل پورې مَلَنډې هم کولے شي ❀ فضول خبرې هم کيږي ❀ د ژبې په ذريعه د ګناهونو ډيرې هم جوړولے کيږي-

---

[1] …ذوقِ نعت، صفحہ:139۔

دا حقيقت دے چې مونږ ته وحي نه راځي، د وحي دروازه بنده ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي په حيث تشريف راوړے دے، اوس به تر قيامته پورې بَل هيڅ نبي نه راځي، چا ته به وحي نه راځي، يعنې اګر که مونږ د وحي په ذريعه خبرې نشو کولے خو د رَبّ د رضا د پاره خو يـې کولے شو--!! الله پاک چې په کومو خبرو باندې خفه کيږي، د هغې خبرو نه خو ځان ساتلے شو ❁ په کومو کارونو چې د الله پاک رضا ميلاويږي، هغه خبرې خو مونږ کولے شو- خو افسوس! نن عجيبه وخت راغلے دے، په کومو کارونو کښې چې د الله پاک رضا ده، په هغې کولو او وئيلو مونږ شرميږو، ويريږو ❁ د نيکۍ په دعوت ورکولو کښې د رَبّ رضا ده خو مونږ پرې شرميږو ❁ په اذان کولو کښې د رَبّ رضا ده خو مونږ پرې شرميږو ❁ په درس ورکولو کښې د رَبّ رضا ده خو مونږ يـې نشو ورکولے، ويره راسره وي ❁ بل خوا وګورئ! په کومو خبرو کښې چې د الله پاک ناراضګي ده، هغه خبرې خلق ډيرې په بے شرمۍ سره کوي ❁ فحش خبرې کولے شي ❁ کنځلې کولے شي ❁ غيبتونه او چغلياني کولے شي ❁ الزامونه لګولے شي ❁ ډير په زړورتيا سره دروغ وئيلے شي، افسوس چې د ګناهونو په دې خبرو کولو خلقو له شرم نه ورځي-

| | |
|---|---|
| اللہ ہمیں کر دے عطا قُفلِ مدینہ | ہر ایک مسلماں لے لگا قفلِ مدینہ |
| بک بک کی یہ عادت نہ سرِ حشر پھنسا دے | اللہ زَباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ |
| بڑھتا ہے خَموشی سے وقار اے مرے پیارے | اے بھائی! زَباں پر تُو لگا قفلِ مدینہ (1) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:96۔

# یو عظیم سُنَّت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارک دے چې نبي کریم صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به فضول هیڅ نه وئیل، چې څهٔ به یې فرمائیل، معنیٰ لرونکي به وو، د حکمت نه به ډک وو- څکه مونږ له پکار دي چې پهٔ دې سُنَّت باندې هم عمل وکړو، د ژبې حفاظت وکړو، همیشه هُم ښې خبرې وکړو، د فضول او د ګناهونو نه د ډکو خبرو نه هر وخت ځان وساتو- ❁ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې ما ته د دوو جامو او د ښپو ترمینځه د څیز (یعنې د ژبې او د شرم ګاه) ضمانت راکړي زهٔ هغهٔ له د جنَّت ضمانت (ګارنټي) ورکووم- [(1)] ❁ پهٔ روایت کښې دي: بے شکه پهٔ جنَّت کښې داسې کوړونه دي د کوم د دننه نه چې د هغې بهر او د بهر نه دننه حصه پهٔ نظر راځي- یو بانډچي عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا د چا د پاره دي؟ خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ❁ څوک چې ښې خبرې کوي ❁ [پهٔ نورو باندې] خوراک کوي ❁ او د شپې چې کله خلق اوده شي نو نـمونځ کوي- [(2)] ❁ پهٔ یو بَل حدیثِ پاک کښې دي: ښه خبره صدقه ده- [(3)]

یا رب نہ ضَرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں!
اللہ زَباں کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

اکثر مرے ہونٹوں پہ رہے ذِکرِ مُحَمَّد
اللہ زَباں کا ہو عطا قُفلِ مدینہ [(4)]

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]…بخاری، حدیث:6474۔

[2]…ترمذی، حدیث:1991۔

[3]…بخاری، حدیث:2989۔

[4]…وسائلِ بخشش، صفحہ:96۔

## خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صادِق هم دے، مَصدُوق هم دے

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هره خبره، هر يو فرمان حق، حق او حق دے- د دې خُلې مبارکې نه چې کوم لفظ هم وه وتلو، هُم حق وه وتلو، د حق نه علاوه هيڅ اونه وتل- دا خبره په خپل ځائے باندې حق ده- د دې سره سره صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْه د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو بَل شان هم بيان کړو، فرمائي: **هُوَالصَّادِقُ وَالْمَصْدُوْقُ** يعنې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صادِق هم دے، مَصدُوق هم دے- [1] يعنې رښتونے هم دے او الله پاک ورته دا شان هم عطا کړے دے چې څۀ وفرمائي، نو هُم هٰغسې کيږي-

چا شاعر دا څۀ داسې بيان کړل چې

تمہارے مُنہ سے جو نکلی، وہ بات ہو کے رہی
کہا جو دن کو کہ شب ہے، تو رات ہو کے رہی

**وضاحت:** يعنې د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا دے چې څۀ فرمائي، هم هٰغسې کيږي، فرض کړه که ورځ وي او محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائي چې دا ورځ نۀ بلکې شپه ده نو د خُلې مبارکې نه چې څنګه ووځي نو فوراً به شپه شي-

## بے مثاله طاقت يې ورعطا کړلو

يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْه دے، د هغوئي اصلي نوم څۀ دے؟ چا ته معلوم نه دے، علّامه اِبنِ حجر رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د هغوئي د نوم په باره کښې 21 اقوال ليکلي دي، يعنې د هغوئي د نوم په

---

[1]...بخاری، کتاب التوحید، باب قولہ تعالی:ولقد سبقت کلمتنا...الخ ، صفحہ:1799، حدیث:7454۔

باره کښې دومره اِختلاف دے، دے په خپل لقب باندې مشهور دے او دا لقب هغوئي ته رسولِ اکرم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عطا کړے وو، د هغوئي د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لقب دومره خوښ شو چې هم په هغې باندې مشهور شو- هُغه لقب څهٔ دے؟ لقب دے: سَفِینَه- حضرت سَفِینَه رَضِیَ اللہ عَنْہ ډیر مشهور صحابي دے- دوئي ته دا لقب ولې میلاؤ شوے وو؟ په دې باره کښې دوئي پخپله فرمائي: یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرته تشریف وړلو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللہ عَنْہُم هم ورسره وو، د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہ عَنْہُم سره چې کوم سامان وو، د هغې په اوچتولو کښې هغوئي د سختې سره مخ وو، رحم او کرم کوونکي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله دا وکتل نو ما ته یې وفرمائیل: خپل څادر وغوړوه! ما څادر وغوړولو- صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہ عَنْہُم ته یې وفرمائیل: ټول خپل سامان په دې څادر کښې کیږدئ! ټولو سامان کیښودو، نبي کریم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِحْمِلْ، فَاِنَّمَا اَنْتَ سَفِیْنَةٌ دا اوچت کړه! بے شکه ته سَفِینَه (یعني کشتی) یې- [1]

علمائے کرام فرمائي: د دې واقعې نه پس د حضرت سفینه رَضِیَ اللہ عَنْہ دا حالت وو چې د یو اوښ بوج به یې په یواځې اوچتولو- [2]

| | |
|---|---|
| وہ زباں جس کو سب کُن کی کُنجی کہیں | اس کی نافذ حکومت پہ لاکھوں سلام [3] |

---

[1]…مسند امام احمد، جلد:9، صفحه:100، حدیث:22556۔

[2]…شرح سنن ابی داود لابن رسلان، جلد:15، صفحه:416، زیرِ حدیث:3797۔

[3]…حدائقِ بخشش، صفحه:302۔

# د کوهي اوبه خوږې شوې

يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم سره چرته تشريف وړلو، پهٔ لاره کښې پهٔ يو ځائے کښې يو کوهے راغلے، د هغې اوبه ترووې وې، نبي کريم صَلَّی اللہ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: د دې نوم څهٔ دے؟ وه وئيلے شو: د دې نوم بَيسَان دے- رسولِ اکرم صَلَّی اللہ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بَلۡ هُوَ نُعۡمَانُ نهٔ--!! بلکې دا نعمان دے-

پهٔ روايت کښې دي چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خُلې مبارکې باندې دا راتلل وو چې هٰغه کوهے د کوم اوبه چې ترووې وې، د نوم بدليدو سره خوږې شوې-

سُبۡحٰنَ اللہ! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کلام اثر--!! څهٔ چې فرمائي، هم هٰغسې کيږي- دلته د غور خبره ده- پهٔ سائنسي لحاظ سره اوبه هٰغه وخت مالرينې او ترووې وي، کله چې پهٔ دې کښې د بهر نه څهٔ ميلاويږي- د اوبو اَصلي فارمولا ده: $H^2O$ (ايچ، ټو، اَو) يعنې چې دوه حصې هائيډروجن وي او يوه حصه آکسيجن وي نو اوبه ترينه جوړيږي، اوس اوبه کومې چې پهٔ باران کښې راوريږي، پهٔ زمکه باندې بهيږي، زمکې ته دننه لاړې شي نو پهٔ دې کښې نور څيزونه هم شامل شي، مثلاً سَودِيَم ګلَورَائِيډ، ميګنيشيم، کيلشيم ربُونيټ، پوټَاشيم وغيره معدنيات چې کله د اوبو سره ميلاؤ شي نو د اوبو خوند بدل شي، اوبه مالرينې يا ترووې شي، څښلے کيږي نه، بيا د دې معدنيانو د لرې کولو د پاره دلته د لکونو روپو پلانټونه لګولے کيږي، ډير قِسمه قسم کيمکلز اچولے شي، پهٔ لکونو روپۍ لګولے شي، د دومره ډير وخت لګيدو نه پس د اوبو نه زياتې معدنيات لرې شي، بيا هم د اوبو هٰغه اصلي خوند

واپس نه راځي- د سوچ خبره ده! ❀ هيڅ پلانټ اونه لګولے شو ❀ اوبه چې هم نکړے شوې ❀ په هغښې کښې لاړې مبارکې هم اونه توکلے شوې ❀ بس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يې صرف نوم بدل کړو، د دومره وئيلو سره په اوبو کښې شامل ټول زياتي معدنيات لرې شول، اوبه بالکل صفا سوترا شوې او داسې صفا شوې چې د هغې حقيقت هم بدل شو، مخکښې تروې وې، بيا خوږې شوې-

| جس سے کھاری کنوئیں شیرۂ جاں بنے | اُس زُلالِ حلاوت پہ لاکھوں سلام(1) |
| --- | --- |

وضاحت: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غورځولے شوو اوبو باندې د کوهې مالګينې اوبه خوږې‌يږي، چې ستاسو د شونډو مبارکو سره ولګيدلې، په داسې خوږو، مزيدارو اوبو باندې دې په لکونو سلامونه وي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوب خبره هم رښتيا شوه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څه جملې وي، کومو ته چې مونږ تکيه کلام وايو- يعنې داسې جُملې وي چې کله يې مونږ وايو نو د هغې معنیٰ مُراد نه اخلو، د هغې د معنې طرف ته زمونږه هډو توجه نه وي، بس هسې د وئيلو په طور يې وايو، لکه څنګه چې د مئيندو عادت وي، وائي: **تيرا سَتْيَا نَاس ہو- تيرا بيڑا تَر جائے-** اوس سَتيَا څۀ ته وائي، ناس څۀ ته وئيلے شي، دا پخپله وييونکو ته هم معلومه نه وي، بيڑا تَر څۀ ته وئيلے شي، شايد چې دې ته توجه نه وي، بس هسې يې وائي-

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:302۔

زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم شان مبارک دے چې صرف د تکيه کلام په طور باندې چې هم څۀ ارشاد کوي، هغه هم حق کيږي- فَقِيهُ العَصر (يعنې د زمانے ډېر لوئے عالِم) مفتي امين صاحب رحمۃُ اللہِ علَیہ ليکي: يو عالِم صاحب وو، هغۀ بيمار شو، ډېر علاج يې وکړو خو

دَرد بڑھتا گیا، جُوں جُوں دَوا کی

خو د هغۀ مرض نور هم زياتيدو، زياتيدو، تر دې چې په کټ پريوتو- يوه ورځ د هغۀ بخت رابيدار شو، اوده وو چې په خوب کښې ورله د ناروغه زړونو قرار، مکي مَدَني سردار صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم تشريف راوړلو، عالِمان خو عالِمان وي، چې هر قِسمه حالت وي د عِلم تږي وي، د هغه عالِم صاحب په خوب کښې چې حضور صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم تشريف راوړلو نو هغوئي په خوب کښې هم د عِلم خبره اوپوښتله، د يو حديث شريف په باره کښې يې عرض وکړو: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم ! آيا دا حديث داسې دے (لکه څنګه چې يې زۀ عرض کووم)؟

اوس په داسې موقع باندې عام طور مونږه وايو: الله دې ښه کړه، دا خبره داسې نۀ ده بلکې داسې ده- نو نبي کريم صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم چې په خوب کښې تشريف راوړلو او د سوال جواب يې ورکولو نو اوئې فرمائيل: لَا...!! عَافَاكَ اللهُ! الله پاک دې تا ته عافيت عطا کړي، دا حديث داسې نه دے-

چې کله هغه عالِم صاحب راويخ شو نو څۀ ګورې چې د هغۀ چې کومه بيماري وه، چې د ډيرو علاجونو باوجود نه ښه کيدله، د محبوب صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم د فرمان په برکت بيماري ختمه شوې وه، هغه عالِم صاحب بالکل روغ رَمټ شوے وو- (البرہان)

سُبْحٰنَ اللهِ! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! د دې خُلې مبارکې نه چې څۀ ووځي، هغه خامخا کيږي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري نه څو کاله پس، پۀ ويخه نه بلکې پۀ خوب کښې تشريف راوړلو، باقاعده دُعا يې هم اونه کړه، صرف د تکيه کلام يوه جمله يې ارشاد وفرمائيله، پۀ هٰغه خوب کښې د وئيلے شوي تکيه کلام دا اثر دے چې څنګه يې فرمائيلي وو، فوراً هم هٰغسې وشول-

مَصدرِ حِکمت و آیات وہ مُبارَک دَہن
نَافِذ جس کی ہر بات وہ مُبارَک دَہن
جس کی فَراخی سے سیراب اپنے پرائے
چشمۂ آبِ حیات وہ مُبارَک دَہن

وضاحت: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُله مبارکه د الله پاک د آيتونو او د عِلم او د حِکمت مقام دے، د هغوئي د خُلې مبارکې نه چې کومه خبره ووځي هغه خامخا کيږي، د دي خُلې مبارکې نه چا ته هم د څۀ څيز د ورکولو نه نۀ منع کوي، د هغوئي د خُلې مبارکې نه وتلي الفاظ د نورو د پاره د آبِ حيات کار کوي-

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## جوامِعُ الکلم عطا کړے شول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کلام دا هم يوه معجزه ده چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته جوامِعُ الکلم عطا کړے شوي دي- د جوامِعُ الکلم مطلب دے: په لږو الفاظو کښې ډير لوئے مفهوم راځائے کول- لکه څنګه چې وئيلے شي چې سمندر پۀ کوزه کښې راګيرول- کوزه څومره وي؟

ورہ شان وي- سمندر څومره غټ وي، يعني د سمندر پۀ شان ډيرې خبرې پۀ يوه ورہ شان جمله کښې بيانول، دې ته جوامِعُ الکلم وئيلے شي- پۀ مسلم شريف کښې حديثِ پاک دے- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ما ته پۀ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام باندې پۀ 7 څيزونو کښې فضيلت راکړے شو، (پۀ هغې کښې دوه خبرې دا دي:) (1): أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ ما ته جوامِعُ الکلم (يعني کم الفاظ او زياتې معنې) عطا کړې شوې (2): وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ او زما پۀ ذريعه باندې د نبوت سلسله ختمه کړے شوه- [1]

## د ختمِ نبوت د عقيدې يو دليل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! جَوَامِعُ الْكَلِم (يعني پۀ لږو لفظونو کښې ډيرې خبرې بيانول)، دا د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم معجزه ده او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا معجزه هم د دې خبرې دليل دے چې هغوئ آخري نبي دے- مخکښې چې کومو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام تشريف راوړے وو، د يو خاص قوم نبي به وو، د هغوئ د هدايت زمانه به هم خاص وه، بيا به بل نبي تشريف راوړلو، زمونږه نبي، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم آخري نبي دے، هغوئ د ټول مخلوق نبي دے، تر قيامته پورې به هم د هغوئ پۀ هداياتو باندې عمل کيږي، يعني د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم هدايات تر قيامته پورې د راتلونکو ✿ د هر دور د پاره ✿ هرې صدۍ د پاره ✿ د هر قِسمه معاشرې د پاره ✿ د هرې يوې طبقې د پاره او ✿ د هر يو د ژوند د يو يو ساعت د پاره وو او وخت څومره وو؟ 23 کاله- ځکه الله پاک هغوئ ته د جوامِعُ الکلم معجزه عطا کړله، شان يې دا دے چې مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به پۀ مختصرو لفظونو کښې خبره ارشاد

---

[1]...مسلم، کتاب المساجد، صفحه:194، حديث:523 ملتقطاً-

فرمائيله او پۀ دې کښې به يـې دومره معنې، دومره مفهوم بيانولو چې تر قيامته پورې د راتلونڪو د هدايت د پاره کافي دے۔

## تر قيامته پورې خبرونه يـې بيان کړل

پۀ مسلم شريف کښې حديثِ پاک دے، حضرت ابو زَيد رضی اللہ عنہ فرمائي: يوه ورځ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د سحر جَمعه ورکړله، بيا پۀ مِنبَر باندې تشريف فرما شو، خطبه يـې شروع کړله، نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم بيان فرمائيلو، فرمائيلو، تر دې پورې چې د **ماسپښين** وخت شو، هغوئي د مِنبَر نه لاندې تشريف راوړلو، د ماسپښين نـمونځ يـې ادا کړلو، بيا يـې خطبه شروع کړله، تر دې پورې چې د **مازديګر** وخت شو، هغوئي لاندې تشريف راوړلو، د مازديګر نـمونځ يـې ادا کړو، بيا يـې خطبه شروع کړله، تر دې پورې چې د **ماښام** وخت شو، بس چې څۀ مخکښې شوي وو او څۀ چې به تر قيامته پورې کيږي، پۀ هغه ورځ نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ټول بيان کړل۔ (مسلم)

صحابۀ کرام رضی اللہ عنہم فرمائي: د هغې ورځې نه دا حالت وو چې مونږه به څۀ واقعه ليدله نو داسې به ښکاريدله لکه چې دا واقعه مخکښې هم شوې ده، چې پۀ ذِهن باندې به مو لږ زور راوړو نو راياد به شو چې دا خو هُم هغه خبره ده کومه چې پۀ هغه ورځ نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم بيان کړې وه۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! پۀ دې حديثِ پاک کښې يو خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د عِلمِ غيب بيان دے چې نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم تر قيامته پورې د خبرو نه خبر وو۔ بيا دا غور وکړئ چې د يوې صدئ تاريخ ليکل وي نو پۀ سوونو صفحات پڪار وي۔ د علّامه ذَهبِي رحمۃ اللہ علیہ کتاب دے: **تاريخُ الاسلام**۔ پۀ دې کښې هغوئي صرف د 7 صدو اهمې اهمې واقعې ذِکر کړې دي۔ د 15 جلدونو کتاب دے او د يو

يو جلد صفحات د 500 نه زيات دي- که څوک پۀ لوستلو کښې هر څومره ماهر وي، نو د دې 7 صدو تاريخ پۀ يوه ورځ کښې نشي لوستلے خو قربان شم! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کلام شان دے چې تر قيامته پورې د کيدونکو د ډيرو صدو خبرونه--- هغه هم صرف اهم اهم واقعات نۀ بلکې تفصيلي خبرونه آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف پۀ يوه ورځ کښې ارشاد کړل- دا دے د جَوَامِعُ الْكَلِم شان--!! څکه خو مونږه وايو:

میں نثار تیرے کلام پر، ملی یُوں تو کس کو زَباں نہیں
وہ سُخن ہے جس میں سُخن نہ ہو، وہ بیاں ہے جس کا بیاں نہیں [1]

## د سبق نه يو ډک حديثِ پاک

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول ارشادات بے مثاله او با کماله دي، د هر يو حديث پۀ يو يو لفظ کښې د عِلم او حکمت دريابونه بهيږي - دا وخت صرف د خپل نصيحت د پاره يو حديثِ پاک بيانووم- د حضرت واثله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خَيْرُ شَبَابِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِكُهُوْلِكُمْ پۀ تاسو کښې بهترين ځلمے هغۀ دے څوک چې د بوډاګانو سره مشابهت لري وَ شَرُّ كُهُوْلِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِشَبَابِكُمْ او پۀ تاسو کښې بدترين بوډا هغۀ دے څوک چې د ځلمو سره مشابهت لري- [2]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے کلام دے--!! يقين وکړئ! د دُنيا او د آخرت پۀ لحاظ سره د

---

[1]...حدائق بخشش،صفحہ:107 ۔

[2]...مسند ابی یعلی، جلد:5، صفحہ:462، حدیث:7483۔

کامياب ژوند تيرولو د پاره صرف دا يو نصيحت کافي دے۔ وګورئ! زمونږ د ژوند درې حصې دي: (1): ورکوکوالے (2): ځواني (3): بوډا والے۔ کوم ماشوم چې نابالغه وي هغۀ خو د شرعي احکامو پابند نه دے، د دې نه پس دوه حصې پاتې کيږي، ځواني او بوډا والے۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ يوه کرښه کښې د ژوند د دې دوارو حصو د تيرولو طريقه وښودله چې که بهترين ځلمے جوړيدل غوارې نو خپل سيرت او کردار داسې جوړ کړه لکه څنګه چې د بوډاګانو وي او که بوډا والے ښه تيرول غوارې نو د داسې خبرو او کردار نه بچ اوسه کوم چې د ځلمو وي۔

## د بوډا والي پۀ باره کښې زمونږه خيالونه

دلته غور وکړئ! دلته د بوډا والي پۀ باره کښې څۀ خيالونه وي؟ مثلاً ❀ که څوک مشر سړے وي او پۀ ټوپونو ټوپونو ګډيږي نو چې مونږ يې ووينو نو څۀ به وايو؟ سړيه! بوډا شوے يې، ښپې دې پۀ قبر کښې دي، اوس الله الله کوه! آيا دا د ګډا عمر دے؟ ❀ داسې که بوډا سړے هر وخت آئينې ته ولاړ وي او ويښته سموي، کريم، پاؤډر وغيره لګوي، څۀ به وئيلے کيږي: سړيه! ستا اوس د دې عمر نه دے ❀ بوډا سړے که پۀ پارک کښې، د سمندر پۀ غاړه، پۀ بازارونو کښې مَعَاذَ الله! غير محرمو ته ګوري، بد نظري کوي ❀ فلمونه ډرامې ګوري ❀ پۀ وړه وړه خبره باندې جنګ ته بډې وهي ❀ کنځلې کوي ❀ پۀ دې عمر کښې هم د لويو لويو محلولو خوبونه ويني ❀ ګيره خريوي ❀ نـمونځونه نه کوي ❀ غلطې مشورې ورکوي ❀ د نورو ژوند حراموي ❀ پۀ فضول لوبو ټوقو کښې اخته وي ❀ غرض دا چې د ګناهونو نه ډک او پۀ فضول کارونو کښې ژوند تيروي نو مونږ يې چې ووينو نو څۀ وايو؟ عام طور هم دا وئيلے شي: سړيه! بوډا شوے يې، خيال کوه! اوس د الله الله کولو عمر دے۔ يعني زمونږه پۀ ذهنونو کښې دا خبره ناسته ده چې

څوک بوډا دے هغهٔ له پکار دي چې ❁ الله الله وکړي ❁ نـمونځونه کوي ❁ ګیره پریږدي ❁ پهٔ نیکو کښې تادي کوي ❁ ښه ډیر عبادت کوي ❁ حج له ځي ❁ عمره کوي ❁ د دُنیا د رنګینو نه مخ اړوي ❁ د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ یادونو کښې زړهٔ لګوي ❁ اوس بوډا شوے دے، اوس دې بس د خپل آخرت تیاري کوي ❁ د دُنیادارئ نه چې څومره کیدے شي ځان دې لرې ساتي- دا د بوډا والي پهٔ باره کښې زمونږه خیالونه دي، رسولِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: خَيْرُ شَبَابِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِكُهُوْلِكُمْ یعنې دا کوم خیالونه چې د بوډا ګانو پهٔ باره کښې ساتلے شي، بهترین ځلمے هغهٔ دے، کوم چې هُم پهٔ ځوانئ کښې داسې کارونه شروع کړي-

## بوډا والے دې ښنګه تیر کړے شي---؟

دا د ځوانئ تیرولو سبق دے- بوډا والے ښنګه تیرول دي؟ اوئې فرمائیل: وَ شَرُّ كُهُوْلِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِشَبَابِكُمْ پهٔ تاسو کښې بد ترین بوډا هغهٔ دے څوک چې پهٔ بوډا والي کښې د ځلمو مشابهت اِختیار کړي-

دلته عام طور د ځوانئ پهٔ باره کښې خیالونه څهٔ وي؟ دُنیا دار قِسم، غافله ځلمي ژوند ښنګه تیروي؟ ❁ هغوئي د ګمنځ او پاؤډرو نه نهٔ وزګاریږي ❁ پهٔ غفلتونو کښې ژوند تیروي ❁ نـمونځونه نه کوي ❁ د لوفرانو پهٔ شان حرکتونه کوي ❁ پهٔ کوڅو کښې ګرځي ❁ فلمونه ډرامې ګوري ❁ ګنده خبرې کوي ❁ پهٔ مجازي عشق کښې راګیریږي ❁ پهٔ غیر محرمو کښې دلچسپي اخلي ❁ وَن وِیلنګ کوي ❁ سیل سپاټې د ژوند مقصد ګڼي ❁ د خوراک څښاک او مزو کولو طرف ته توجه کوي ❁ شرابونه څښي ❁ شپې ډیرې مزې کوي ❁ درز غوبل کوي ❁ د آخرت رغبت نه لري ❁ اوږده اوږده اُمیدونه تړي ❁ عام طور پهٔ ځوانئ کښې ګیره نه پریښودے کیږي ❁ د لویو لویو محلونو خوبونه

لیدلے کیږي- او نورې ډیرې داسې خبرې دي، کومې چې ځلمي کوي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بوډاګان پوهه کړل چې شَرُّ كُهُوْلِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِشَبَابِكُمْ یعنې بد ترین بوډا هغهٔ دے څوک چې د داسې خرابو ځلمو والا حرکتونه کوي-

سُبْحٰنَ الله! څومره زبردست نصیحت دے- ځواني ښکله تیرول دي؟ بوډا والے ښکله تیرول دي؟ په دې باندې پوره پوره کتابونه لیکلے کیدے شي خو رسولِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول ژوند نصاب په یوه جمله کښې ارشاد فرمائیلے دے- بیا مونږ ولې اونه وایو:

میں نثار تیرے کلام پر، ملی یُوں تو کس کو زَباں نہیں
وہ سُخن ہے جس میں سُخن نہ ہو، وہ بیاں ہے جس کا بیاں نہیں (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک کلام یو څو شانونه ما عرض کړل، ربنتیا هم دا دي چې

زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹوٹ گئے
تیرے اَوصاف کا اِک باب بھی پُورا نہ ہوا

اوس په دې موضوع باندې نور ډیر څهٔ وئیلے کیدے شي، ډیر څهٔ لیکلے کیدے شي خو حقیقت دا دے چې مونږ د هغوئي د شان بیانولو حق هډو ادا کولے نشو-

اے رضا خُود صاحِبِ قرآں ہے مدّاحِ حُضُور
تجھ سے کب ممکن ہے پھر مدحت رسول اللہ کی (2)

---

1...حدائق بخشش، صفحہ:107 ـ

2...حدائق بخشش، صفحہ:153 ـ

بس الله پاک دې مونږ ته زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رښتونې پخې غلامۍ، رښتوني عشق او د سُنَّتو سره د عشق کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## "د خبرو کولو آداب" د کتاب ترغيب

د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ډير ښکلے کتاب دے: **د خبرو کولو آداب**۔ دا د فيضانِ سُنَّت جلد دريم يوه حصه ده ❁ زمونږه د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خبرو کولو انداز څنګه وو؟ ❁ د خبرو کولو په باره کښې سُنَّت څۀ دي؟ ❁ د دې آداب څۀ دي؟ ❁ ژبه به څنګه صحيح استعمالوې؟ ❁ د دې د غلط استعمال څۀ نقصانونه دي؟ وغيره ډير زيات دِيني معلومات په دې کښې شامل دي۔ دا کتاب د مکـتبة الـمدينه نه وغواړئ! يا يـې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټس نه ډاؤن لوډ کړئ! پخپله يـې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ضرور ورکړئ!

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: دَرس

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❁ د ښې ځوانۍ تيرولو ❁ د ښه بوډا والي تيرولو ❁ د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عشق باندې د زړۀ روښانه کولو ❁ د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو ❁ د دِين او د دُنيا د بے شميره خيرونو موندلو ❁ او په سُنَّتو باندې د عمل کولو د جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ، په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي۔ د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **دَرس** هم دے۔

پۀ جومات کښې عِلمِ دِين ښودل د خوږ مصطفٰے صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي: ❁ زمونږ نبي، مکي مَدَني صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عِلمِ دِين ښودلو او ❁ صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان به زده کولو [1] ❁ د لويو لويو اوليائے کرامو او د اُمّت د علمائے کرامو هم دغه معمول وو-

❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې نيک کار کولو سعادت حاصلوي ❁ پۀ خپلو خپلو کورونو کښې، پۀ جوماتونو کښې، پۀ بازارونو او چوکونو وغيره کښې درس ورکوي او ثوابونه ګټي ❁ تاسو هم پۀ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ❁ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درنصيب کيږي ❁ پۀ نيک صحبت کښې به پاتې کيدل درنصيب کيږي ❁ که د کور نه پۀ درس کښې د شرکت کولو پۀ نيت سره ځئ نو د عِلمِ دِين پۀ لاره کښې د تللو ثواب به درته ميلاويږي ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مخلوقات تر دې پورې چې پۀ درياب کښې مهيان [کبان] به هم [ستاسو د پاره] دعاګانې کوي او څۀ پته چې د درس کومه خبره زمونږ پۀ زړۀ باندې اثر وکړي او پۀ ژوند کښې مو انقلاب راولي- راځئ چې تاسو ته د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے بيان کړم:

## د فيضانِ سُنَّت د لوستلو برکت

د کراچۍ د يو اِسلامي ورور بيان دے: يوه ورځ زۀ د ماښام د نـمونځ کولو د پاره جومات ته لاړم، د نـمونځ نه پس مې وليدل چې يو اِسلامي ورور د يو کتاب نه درس ورکوي، زۀ هم درس ته کښيناستم- کتاب ته چې مې وکتل نو معلومه شوه چې دا فيضانِ سُنَّت دے- د دَرس نه پس ما هغه اِسلامي ورور ته درخواست وکړو چې ما له د لوستلو د پاره

---

[1] ...مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:239-

فيضانِ سُنَّت راکړئ- هغوئي راکړو- زۀ هُم پۀ جومات کښې کښيناستم او فيضانِ سُنَّت لوستل مې شروع کړل، روزانه به مې لږ لږ لوستلو- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې برکتي کتاب لوستلو پۀ برکت سره پۀ ما کښې پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه راپيدا شوه، د دې پۀ برکت زۀ د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راغلم او د سُنَّتو مطابق د ژوند تيرولو کوشش مې شروع کړو-

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول | ہے فَیضانِ غوث و رضا دینی ماحول |
| اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر(***Quran Teacher***)۔ ❀ پۀ دې ايپلي کيشن د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس پۀ شان د بے شميره آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کولے شي ❀ پۀ سټوډنټ پورټل (***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو پۀ باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❀ د دعوتِ اِسلامي پۀ دې پليټ فارم باندې تقريباً د 45 نه زيات اِسلامي کورسونه کولے شي- ❀ دا ايپلي کيشن د آئن لائن کيدونکو کورسونو پۀ باره کښې هم معلوماتورکوي- تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او نورو هم ته ترينه پخپله

فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب وکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ په مَدَني چينل لائيو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس په مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د روضهٔ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې خوندور معلومات** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ په قرآنِ کريم کښې الله پاک د يَا اَيُّهَا النَّاسُ نه ډير آيتونه نازل کړل په کومو کښې چې يې د ټولو خلقو د پاره عمومي احکام نازل کړل، دا احکامات مفتي قاسم عطاري صاحب په خپل کتاب **اے لوگو!** کښې د اساني تشريح سره بيان کړي دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مکتبة المدينه د دې کتاب د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے۔ تاسو دا کتاب په **780** روپی د مکتبة المدينه د يوې

څانګې نه پۀ بيعه حاصل کړئ، دا کتاب پخپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِى فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي- [1]

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خبرو کولو سُنَّت او اداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چې تاسو يو بنده ووينئ چې هغۀ ته د دنيا نه بے رغبتي او د کمو خبرو کولو نعمت ورکړے شوے دے نو د هغۀ نزدې والے او صحبت اختيار کړئ ځکه چې هغۀ ته حِکمت ورکولے شي- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❀ پۀ مُسکا او فراخه تندي سره خبرې کوئ ❀ د مسلمانانو د زړۀ ګټلو پۀ نيت سره د وَړو سره د شفقت نه ډکې او د لويو سره د

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]...ابْنِ ماجه، کتاب الزہد، صفحه:667، حديث:4101۔

ادب والا لهجه ساتئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به هم ميلاويږي او لوئي او واړه ټول به ستاسو عزت کوي ❀ په زوره زوره خبرې کول سُنَّت نه دي ❀ د ښو ښو نيتونو سره د ماشومانو سره هم تاسو د جناب والا د خبرو کولو عادت جوړ کړئ، ستاسو اخلاق به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ښه وي او ماشومان به هم اداب زده کوي ❀ د خبرو کولو په وخت د پردې ځائے له لاس وروړل، د ګوتو په ذريعه د بدن نه خيرے لرې کول، د نورو په مخکښې بيا بيا پوزې له ګوتې وروړل يا په پوزه يا غوږ کښې ګوتې وهل، لاړې توکل ښه خبره نه ده، د دې نه نورو له کرکه ورځي ❀ تر څو پورې چې بل ګس خبرې کوي، په اطمينان سره يې اورئ، د هغهٔ د خبرې کټ کولو سره خپله خبره شروع کول سُنَّت نه دي ❀ د خبرو کولو په وخت بلکې په هر حالت کښې په ټق ټق مهٔ خاندئ ځکه چې د مدينے سرکار، زمونږ د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم په ټق ټق نه دي خندلي ❀ د بد زبانۍ او بے حيايۍ د خبرو نه هر وخت پرهيز کوئ، د کنځلو نه ځان ساتئ او ياد ساتئ چې يو مسلمان ته بغير د شرعي اجازت نه کنځلې کول قطعي حرام دي او د بے حيايۍ په خبرو کوونکې جنَّت حرام دے- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **په هٔغه ګس جنَّت حرام دے څوک چې د فحش خبرو نه کار اخلي**- د فحش خبرې معنٰی ده: اَلتَّعْبِيْرُ عَنِ الْاُمُوْرِ الْمُسْتَقْبِحَةِ بِالْعِبَارَاتِ الصَّرِيْحَةِ يعني د شرمناکو چارو (مثلاً د ګنده او بدو معاملو) په صفا لفظونو کښې ذِکر کول- [1]

| | |
|---|---|
| میری زباں تَر رہے ذِکر و دُرود سے | بے جا ہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فضُول [2] |

---

[1]... 550 سنتيں اور آداب، صفحه:34-

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:243-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا | پاؤگے برکتیں قافلے میں چلو |
| قرض کا بار ہو، بے کسی یار ہو | چاہو گر راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد